استقامت در راه الله (ج)

خداوند تعالی میفرماید: «هر آئینه آنانیکه گفتند پروردګار ما خدا است وباز ثابت ماندند، بر ایشان فرود مي آید فرشتګان که مترسید و اندوه مخورید وبه بهشتي که وعده داده مي شدید خوشحال شوید. ما دوستان شما بودیم در زندګاني دنیا وآخرت نیز»

(فصلت: ۳۰-۳۱)

شریعت

اوونیزه

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحریك نشراتي ارګان

پایداري بر صراط المستقیم، یګانه راه نجات است

از أبو عمر (رضي الله عنه) روایت شده که ګفت: ګفتم یا رسول الله براي من در اسلام سخني بګو که بعد از تو از کسي نپرسم. فرمود: بګو: «آمنت بالله» بخدا ایمان آوردم وسپس استقامت کن وپایدار باش.

(مسلم و ریاض الصالحین)

لومړی کال | اته څلویښتمه ګڼه | دوشنبه د۱۳۷۵ هـ ش کال دقوس دمیاشتي (۱۲) | د۱۹۹٦میلادي کال دسمبر (۲) | د۱٤۱۷هـ ق کال رجب المرجب (۲۲)

دعدلیي وزیر مولوي نور الدین (ترابي) له شریعت اوونیزي سره په مرکه کي:

که مخالفین له شرارت نه لاس واخلي نو له عمومي عفوې نه به برخمن وي

نړیوال ځکه دافغانستان اسلامي دولت په رسمیت نه پیژني چي موږ سوچه اسلام حاکم کړیدي

د مامورینو د اقتصادي ستونزو د حل لپاره معقولي لاري چاري لټوو

د افغانستان د اسلامي دولت د عدلیي د وزارت سرپرست وزیر مولوي نور الدین (ترابي) چي د یو لوړ رتبه هیئت په مشري ننګرهار ته تللي د شریعت اوونیزي له خبریال سره د یوي ځانګړي مرکي په ترځ کي وویل: نړیوال ځکه د افغانستان اسلامي دولت په رسمیت نه پیژني چي موږ سوچه اسلام حاکم کړیدي او د چا قانون او غلامي ته متو او دا حقیقت دي چي تر څو مسلمانان د کفارو قانون وته متي هیڅکله به تري راضي نه شي لوي خداي (ج) څوارلس سوکاله وړاندي رسول (ص) تنبیه کړیدي چي هیڅکله به له تا څخه یهود او نصري راضي نه شي تر څو د هغوي د قانون او شریعت تابع نه شي. مولوي صاحب ترابي ددي پوښتني په ځواب کي چي ایا تاسو نورو هیوادونو سره د اسلامي دولت د په رسمیت پیژندلو لپاره تماس نیولي؟ وویل: هر څه موده دمخه یو هیئت د بهرنیو چارو د سرپرست وزیر مولوي محمد غوث احمد په مشري امریکایي او اروپایي هیوادونو ته او یو هیئت د حاجي معاون صاحب په مشري عربي هیوادونو ته تللي و خو متاسفانه چي د عربي هیوادونو (٤ مخ)

داسلامي اردو بریو دوستم ډیر وارخطا کړیدي

له خپلو افرادو سره یې وعده کړي هره سیمه چي نیسي | دهغه ځاي هر څه دهغوي دي

د کابل په شمالي محاذ کي د اسلامي مجاهدینو له لاسه د پرله پسي ماتو خوړلو نه وروسته د اسلامي دولت مخالفي شورا دخپلو ماتي خوړلو ځواکونو د لا مضبوطولو له پاره له شمالي ولایتونو څخه پوځي مرستي بګرام ته رالیږدولي دي. ورمه ورځ ددوستم زرګونه پوځیان د ټانکونو او نورو پوځي وسایطو سره له سالنګ نه را تیر شول. (٤) مخ

دختیځ زون تنظیمه رئیس مولوي عبدالکبیر:

داسلامي حکومت ټینګښت د ټولو افغانانو وظیفه ده

هغه قوماندانان چي غبن یې نه وي کړي کولي شي خپل رسالت تر سره کړي

قاضي محمد امین «وقاد» د قوس په نهمه نیټه په جلال اباد کي د ختیځ زون له تنظیمه رئیس او د ننګرهار والي مولوي عبدالکبیر سره وکتل او د هیواد په روانو حالاتو یې ورسره مفصلي خبري وکړي. زموږ خبریال خبر را کړچي په دي وخت کي قاضي محمد امین وقاد پخپلو خبرو کي د اسلامي حکومت د ټینګښت او د شرعي حکمونو په تطبیق کي د ټولو مجاهدینو او افغانانو په افغاني همکاري ټینګارو کړ. نوموړي وویل: څه بڼي موږ غوښتل د طالبانو اسلامي غورځنګ د هغه په عملي کولو لګیا دي. په دي لړکي د طالبانو اسلامي غورځنګ ته په کار دي چي مجاهدینو، قوماندانانو او سر ګروپانو ته د کار او خدمت کولو موقع ورکړي، ده وویل: اسلامي دولت باید د نظام او اداري په جوړولو کي د نظر د خاوندانو او مفیدومتورینو نه ګټه واخلي. په مقابل کي مولوي عبدالکبیر څرګنده کړه، د اسلامي حکومت ټینګښت یوازي د طالبانو کار نه دي بلکي د ټولو افغانانو وظیفه ده چي په دي لړ کي له موږ سره همکاري وکړي. ده زیاته کړه: موږ مخکي هم په ډاګه ویلي وو هغه قوماندانان چي کوم غبن او ورانکاري یې نه وي کړي او د قوم شتمني یې نه وي لوټ کړي له موږ سره د ارتباط نه وروسته کولي شي خپلو کورونو او ټاټوبي ته راستانه شي او د اسلامي منشور مطابق خپل رسالت تر سره کړي.

محترم ملا متقي طي مصاحبه، اظهار کرد:

ما خواهان امن هستیم واز هر نوع کوشش براي آتش بس حمایت مینمائیم

محترم ملا أمیر خان متقي وزیر سر پرست اطلاعات وکلتور طي مصاحبه، اظهار داشت: ما خواهان تأمین امن هستیم واز هر نوع کوشش ملل متحد براي آتش بس حمایت مینمائیم.

وي افزود: ما اکنون هم آماده آتش بس مشروط هستیم نخستین شرط ما اینست که مخالفین متابعت خویش را از دولت اسلامي افغانستان اعلان نمایند. شرط دوم اینکه اسیران جنګي تبادله ګردد. ولي مخالفین این هر دو شرط را نمي پذیرند زیرا پذیرفتن حکومت اسلامي را به معنی تسلیمي به تحریك اسلامي طالبان مي پندارند وتبادله اسیران جنګي قبل (ص ٤)

په داخل او خارج کي دطالبانو داسلامي تحریك په ملاتړ غونډي روانې دي

دجنوبي وزیرستان له وانه څخه زموږ خبریال خبر راکوي چي د روان کال د میزان له میاشتي څخه تر اوسه پوري د هغه ځاي اوسیدونکو مهاجرو او انصارو علماو قامي مشرانو او عامو اوسیدونکو د طالبانو د اسلامي تحریك او په افغانستان کي د اسلامي دولت په ملاتړ وخت په وخت پرتمیني غونډي کړي او په دي لړه یې خپل غوځ ملاتړ څرګند کړي دي. خبریال زیاتوي: په غونډو کي د کمونستي نظام او د هغوي د بادارانو پخواني شوروي اتحاد ظلمونه یاد شوي او بیا تر هغو وروسته د کابل د ائتلافي اداري هغو ظالمانه کړو وړو ته ګوته نیول شوي ده چي په تیرو څه دپاسه څلورو کلونو کي یې زموږ پر مسلمان او مجاهد ملت باندي کړي دي. خبریال وایي د غونډو برخه والو په هیواد کي د طالبانو د اسلامي تحریك د هلو ځلو په نتیجه کي چي کوم اسلامي حاکمیت ټینګ شوي دي دا دټول مسلمان ملت دډیري اوږدي مودي د زړونو غوښتنه ده ځکه خو نو موږ په هیواد کي د اسلامي دولت مشرانو ته ډاډ ورکړو چي د اسلامي نظام لا ټینګښت په لړه به خپلې هیڅ ډول مرستي او قرباني ونه سپموو. خبریال وایي دغه غونډي په هیواد کي د امن او استقرار په دوعاو پاي ته ورسیدي او د برخه والو له خوا یې تود هر کلي وشو، دیو بل خبر له مخي په المان کي د میشتو افغاناتو یو هیأت د ننګرهار له والي محترم مولوي عبدالکبیر سره په جلال آباد کي وکتل هیات په جرمني کي د میشتو (٤ مخ)

میان روس ها ودولت سرنګون شده، رباني قرارداد جدید چاپ نوت هاي افغاني عقد شده است

۵۰۰ ملیارد افغانی طبق قرار داد قبلي نزد روسها باقیمانده است

ګفته میشود جهت چاپ نوت هاي افغاني براي سال (۱۹۹۷) میان ورس ها و رباني قرار داد جدید عقد ګردیده است. به قول منابع اګاه، قرار داد جدید یك حلقه کمك هاي روسیه با حکومت سرنګون شده ایتلافي سابق کابل پند اشته میشود. قابل یاد اوریست هنګامیکه تحریك اسلامي طالبان کابل را فتح و اداره ائتلافي رباني را سرنګون ساخت روسیه اعلان کرد که حکومت رباني را تا هنوز هم به رسمیت مي شناسد وهر نوع کمك مالي و نظامي را با ان حفظ مینماید. به این ارتباط این سخن نیز قابل یاداوریست که به اساس قرار داد قبلي یکهزار و سه صد ملیارد افغاني نزد روسیه باقي مانده است چنانچه مولوي احسان الله (احسان) رئیس د افغانستان بانك نیز به این موضوع اشاره کرده و ګفته است که کمیشن پول متذکره نیز (ص ٤)

اسلامي اردو په شمال کي د مخالفینو څو حملي په شاوتمبولي

دجنګ لومړي کرښه اوس هم په قره باغ کي ده

د قوس دالني نیټي په شپه د رشید دوستم او مسعود ځواکونو د قره باغ په سیمه کي د طالبانو په مرکزونو دري حملي وکړي چي د اسلامي اردو له خوا په شاوتمبول شوي. زموږ خبریال د افغان اسلامي اژانس په حواله لیکي، ددي حملو په نتیجه کي اسلامي اردو د مخالفو قواوو اته تنه ژوندي (٤) مخ

امریکا از طریق مذاکرات خواهان ختم جنګ در افغانستان است

لي کدلارن مسئول امور افغانستان، پاکستان و بنګله دیش در دفتر وزارت خارجه امریکا ګفته است امریکا میخواهد خانه جنګي در افغانستان از طریق مذاکرات خاتمه پذیرد. نامبرده ضمن خطاب به اجلاس مشترك کسته (ص ٤)

دننګرهار د ارزاقو په ریاست کي د چارود لاسون لپاره غونډه جوړه شوه

د روان کال د لړم په شپږمه د ننګرهار ولایت د ارزاقو په ریاست کي ددي ریاست د چارو د لاسون او پرمختګ لپاره غونډه جوړه شوه پدي غونډه کي چي د سوداګري د وزارت استازي او د سمون شرکت رئیس ډاکټر حلیم زي (٤) مخ

دننګرهار ولایت په مربوطاتو کي په ډیره پیمانه سپکه او درنه وسله ونیول شوه

د ننګرهار ولایت د بهي کوټ ولسوالي له مربوطاتو څخه زیاته اندازه وسله لاس ته راغلې ده. د رارسیدلي خبر په اساس په نوموړي وسله کي اته (٤ مخ)

دننګرهار بریښنا رئیس مولوي عبدالروف (خدام) له شریعت سره په مرکه کي:

دبریښنا په توزیع کي له اسلامي اصولو او د بریښنا له قانون سره سم مساوي بدلون راغلی دي، د محکمو واکدارانو په وخت کي د بریښنا د توزیع په برخه کي اسلامي اصول او د بریښنا دویش قانون تر پښو لاندي شوي و په واسطو او ظلم زور په میتر ترلاسه کیده خو د طالبانو له راتګ سره سم د اسلام او د بریښنا له اصولو سره موافق د بریښنا په ویش کي قدم واخست له ظالمانو مو بریښنا قطع او په غریبو او بې واسطه خلکو مو د عدل په چوکات کي توزیع کړه، دا خبري د ننګرهار بریښنا رئیس مولوي عبدالروف (خدام) د شریعت له خبریال سره د یوي مرکي په ترځ کي کړیدي. مولوي (خدام) ددي پوښتني په ځواب کي چي د اسلامي تحریك له بریالیتوب وروسته مو څه فني خدمتونه کړیدي داسي وویل: موږ الحمدلله د خداي (ج) په نصرت او د فني انجنیرانو په مرسته د بریښنا پروګرامونو ته

په الجزایر کي عمومي انتخابات وشول

په الجزایر کي د نوي اساسي قانون د مسودي د تصویب له پاره عمومي انتخابات تر سره شول. د نړیوالو خبري منابعو په حواله ویل کیږي چي: د الجزایر په سلو کي ۸٦ وګړو د قوس په نهمه نیټه د نوي اساسي قانون د مسودي د تصویب په پلوي رایې ورکړیدي. په نوي اساسي قانون کي د سیاسي احزابو جوړولو ته اجازه ورکول کیږي، خو د ژبي او مذهب په بنیاد څوك د سیاسي ډلي په نوم فعالیت نشي کولي په نوي اساسي قانون کي به د الجزایر پوځي پلوي جمهور رئیس ته نور واك هم ورکول شي او د نوموړي د جمهوري ریاست دوره به د دوو نورو کلونو له پاره اوږده شي.

دملکرو ملتونو استازي وویل:

ملګري ملتونه دکابل له جنګ ځپلو ښاریانو سره مرسته کوي

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت معین محترم شیر محمد عباس ستانکزي ویلي دي چي د ملګرو ملتو مرستندویه ادارو ته په کار دي چي بې طرفه وي نوموړي په کابل کي د ملګرو ملتو له یوه استازي سره د خبرو په وخت کي وویل: اسلامي دولت مرستندویه ادارو ته د قدر په سترګه ګوري او له هغوي سره هر ډول مرستي ته تیار دي.

ده زیاته کړه: د ملګرو ملتونو د کار کوونکو دا وظیفه ده چي د نړیوالو ادارو له خوا له ورکړي شوي (٤) مخ

جهاد له منفعتي څخو څخه جلا... ۲مخ

دشریعت تبصره ۲مخ

ملي خائن څوك دي ۲مخ

راغلي لیکونه ۲مخ

داخته مفکوري ۳مخ

په افغانستان کي داسلامي شوراوي... ۳مخ

ملت در مقابل مفسدان... ص۳

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

ملګري ملتونه، اسلامي کنفرانس او دافغانستان د اسلامي دولت په رسمیت پیژندل

نړۍ باید دانصاف پر بنسټ عمل وکړي

دا دي دوه میاشتي کیږي چي د طالبانو اسلامي تحریك د هیواد مرکز کابل نیولي دي او هلته هر اړخیز امنیت تأمین دي. ولي متأسفانه نړیواله ټولنه لا تراوسه پوري د افغانستان په غم لړلي حالت بې تفاوته پاتې ده. پخوا تر دي چي د طالبانو اسلامي تحریك د کابل ښار او د هیواد نور مهم ښارونه لکه کندهار، هرات، ننګرهار او نوري سیمي ونیسي له ټولي نړۍ سره دا ویره او تشویش موجود ؤ او دي ته حیرانه وه چي څنګه به وکولاي شي په افغانستان کي مرکزي حکومت جوړ کړي وسلي ټولي کړي او ولایات د مرکز او امر ومني او په هیواد د مختلفو ډلو «سیمه ییزه واکمني پاي ته ورسیږي. هغه وخت چي په کابل ښار د رباني د ائتلافي حکومت قبضه وه افغانستان عملاً په اداري لحاظ تجزیه شوي ؤ او د کابل د اداري احکام د کابل په پولس ګوتو ناحیو کي هم نه اجراء کیدل په هیواد کي انارشي وه د ټوپك قانون مسلط ؤ او د هیچا سر او مال په امن کي نه ؤ، په افغانستان کي ددي حالت د بدلون لپاره هرڅنګ هلي ځلي کیدلي خو بوي هم نتیجه نه ورکوله ځکه به هیواد مسلطو مسلحو ګروپونو نه غوښتل چي سوله او امن راشي ځکه سوله او امنیت ددوي لپاره د مثلو وړ نه ؤ دا ځکه چي ددوي د چور (۲) مخ

دپخوانیو تنظیمونو ټول افراد چه تنظیمي روحیه او تعصب ونلري، په فساد کښي ملوث نه وي زموږ وروڼه دي او داسلامي دولت دروازې ورته خلاصي دي.

شریـعت

دامتياز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحريك
دتأسيس كال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليكوال هيئت تركنتنى لاندي
مسئول مدير : مولوی احمد جان
تيليفون : ۸٤۰۳۷۸
فاكس : ۸٤۰۳۷۸
آدرس : په پيښور كى د[illegible] د اسلامي تحريك نمائندگي
ديوي ګڼي بيه : په هيواد كي (۵۰۰) افغانۍ
: په پاكستان كى (۳) كلداری

دسرمقالي پاتي برخه

او چپاول مخه بيا نيول كيدله، دغه مسلحو ګروپونو چي د تنظيمونو په وجود كي مينځ ته راغلي ؤ د خلكو د ژوند په ټولو وسايلو يي ناروا قبضه كړي وه او د افغانستان د مظلوم ملت د شكايت غږ هيڅا هم نه آوريده، ملت د نجات لاره لټوله او نړيواله ټولنه هم حيرانه وه، د ملګرو ملتو د استازو ماموريت په افغانستان كي ځو ځو ځله له ناكامي سره مخامخ شو او علت يي ددغو مسلحو ډلو موجوديت ؤ چي نه يي غوښتل په هيواد كي سوله ټينګ كوښښونه كامياب شي او افغانان د ارام ساه واخلي همدارنګه د اسلامي كنفرانس استازي د افغانستان د مسئالي په اړه هر اړخيزي هلي ځلي كولي خو له يوه لوري هم ورته رښتيا نه ويل كيدل او ددوه مخي له سياست څخه كار اخستل كيده دي حالت د ملګرو ملتو او اسلامي كنفرانس هلي ځلي كله كله له نااميدي او په نهايي تحليل كي له ماتي سره مخامخ كړي وي په دي خاطر چي افغانان نا اميده نشي د ملګرو ملتو ټولني به خپل استازي بدلول رابدلول تر څو د افغانستان مسأله لا اقل ژوندي وساتي، د افغانانو لپاره په ځانګړي ډول او د نړيوالي ټولني لپاره په عمومي توګه د افغانستان مسئله په يوه جړي مشوري بدله شوي ؤه، او د حل لاري روښانه نه وي، خو كله چي د طالبانو اسلامي تحريك سر راپورته كړ او داړي ويښيله چي دغو ښتونزو ته پاي ورکړي او افغانستان له دغه منجلاب څخه وباسي نو په پاك نيت يي په لوي خداي (ج) توكل وكړ او د افغانستان د ملت په ملاتړ يي تقريباً څه باندي دوه كلونو په موده كي د هيواد ۷۰ فيصده خاوره له دغو عناصرو څخه پاكه كړه او هلته يي عملاً دولتي واحده اداره رامينځ ته كړه، د طالبانو اسلامي تحريك اوس ددولت د جوړولو اساسي عناصر چي هغه د امنيت تأمين، د مركزي حكومت د اوامرو تابع كيدل او د هيواد په قلمرو تسلط دي پوره كړي او دغه پروسه لا نوره هم د اكمال په لور روانه ده ځيني مسايل چي د جنګي حالت په اساس يي د اجرا زمينه لا نده مساعده يو په بل پسي اجرا كيږي، د هيواد مركز كابل ددولتي قدرت د تمثيل د اساسي مركز په حيث د طالبانو د اسلامي تحريك په لاس كي دي او هلته عملاً اسلامي دولت د خلكو خدمت كوي. د طالبانو د اسلامي تحريك له خوا په كابل كي د جوړ شوي اسلامي دولت ټول حقوقي معيارونه پوره دي او خلك همدارنګه يو نظام غواړي، خو په دي اړه د نړيوالي ټولني يي تفاوتي د پادولو وړ ده، سوړ له نړيوالي ټولني څخه په دي اړه انصاف غواړو او هغه هم د افغانستان د مظلوم ملت لپاره هغه خلك چي دوي ترورېستان او د مخدره موادو قاچاق بران بلل نن ځرنګه دي ته حاضر شوي دي چي د فرار په حالت كي د ملت قاتلان د فراري حكومت په نامه چي د زرګونو افغانانو په وينو يي لاسونه سره دي قلمرونلري او دوي يي د حكومت په نامه يادوي. افغانان له ملګرو ملتو او اسلامي كنفراس څخه هيله لري چي داتصاف پرينسيپ په كابل كي اوسني اسلامي دولت په رسميت وپيژني او په دي اقدام سره د افغاني لانجي په حل كولو كي خپل مثبت رول ادا كړي كه نه نو افغانان به په دوي د بي انصافي حكم وكړي افغانان دا د ځان لپاره توهين ګڼي چي فراري حكومت چي نه يي پخوا په هيواد تسلط درلود او نه يي اوس لري ددوي نماينده ګي وكړي. دا له افغانانو سره د مرستي لپاره د نړيوالي ټولني په تيره بيا اسلامي كنفرانس لپاره ډيره ښه مساعده موقع ده چي په افغانستان كي د امن د تامين په خاطر دطالبانو اسلامي تحريك ته لاس ورکړي او دغه لانجه پاي ته ورسوي د نړيوالي ټولني به په تيره بيا اسلامي كنفرانس په دي اقدام سره به په افغانستان او منطقه كي دايمي ثبات مينځ ته راشي.

د شريعت تبصره

دائتلاف كشتي په ډوبيدو ده

د اسلامي تحريك مخكښه ځواكونه د هيواد په شمالي برخه كي د شر او فساد د جرړو په ويستلو بوخت دي هره ورځ زموږ سوله دوست او مسلمان وطنوال په هيواد كي د اسلامي واكمني د ټينګښت او پياوړتيا تازه زيري اوري د اسلامي شريعت مدافع عسكر دديني مدرسو طالبان د هيواد په شمالي صفحاتو كي خپلو فتوحاتو ته دوام وركوي، او داسي ښكاري چه د اسلام دغه اتل بچيان په ډيره ميړانه زموږ د دين او وطن دښمنان ځپي او فاتحانه د هيواد د پيوستون او ملي وحدت په لور روان دي، سازشونه خنثئ كوي، معامله ګري ټكوي، غلامي سركو بوي، دفساد او نفاق جبهي ماتوي، او د خارجيانو پرهڅي ځپي.

كه څه هم بهرنيانو زيار وويستلو چي زموږ په لرغوني هيواد كي بي ثباتي پخپل حال پاتي شي، د افغانانو داستونزمن حالت دوام وكړي، دلته جنګونه وي، قتلونه وي، ظلم وي، لامركزيت وي، حدودنه وي، قانون نه وي، اصول نه پيژندل كيږي، حقوق نه مراعات كيږي او... ددي ناخوالو د بقا لپاره زموږ بهرنيو دښمنانو ډيري هڅي وكړي، اجيران ني ونيول، ائتلافونه ني جوړ كړل، توطئونه اوروپلونه ني وشندل نوي نوي وسلي او انسان وژونكي الات ني تيار او صادر كړل، ډير ملكونه ني ويوړ نول چه په افغانستان كي د طالبانو د اسلامي تحريك واكمني ستاسو لپاره ډير لوي خطر دي بايد مخنيوي ني وكړي او...

د هيواد په دننه كي پرديو اجيرانو هم د اسلامي واكمني د مخنيوي لپاره د خارجيانو څخه خپلو مرستي، قرباني او فداكاري ونه سپمولي، د هغوي د مزد او اجرې پوره پوره حق ني ادا كړ، په داخل كي چه ني د افغان ولس په هر څومره سپكاوي لاس بر شو د هغه په لار كي ني هيڅ تقصير اوسستي ونكړه او څه خارجي سطحه ني هم خپلو بادارانو ته ډيري ښه ي رامنئي ووهلي.

د روسانو، هندوانو او... نوكرانو وخت په وخت خپلواكه اوازادي نړي ته خپل استازي ليږل چه هغوي پدي ټكي قانع كړي چه ګوندي اسلام د ټولو لپاره لوي اتم بم دي بايد ټول ددغه هلاكوونكي (؟) څخه دنيا خلاصه كړو او...

د اسلامي واكمني څخه باغي افرادو او د پرديو لاسپوڅو هم دغسي هڅي ډيري زموږ دولس له سترګو پټي او پناه وكړي خو لكه چه وائي ...لمر په دوو ګوتونه پټيږي" نو د شريرو افرادو دغه عمل چه لكه د لمر غوندي په ټوله دنيا كي ښكاره

جهاد له شخصي ګټو څخه چاقربان كړ؟ او اوس يي له انحراف څخه څوك ژغوري؟

ش. ق. «بي وزله» | پسه تيـــــر پســـي

او دننګرهار دجهادي شورى دغړو په لمن هم لمونځ كيده هغوي هم دخپلو خپلو او ...... لپاره ټول هغه څه وكړل چي تاريخ به يي هيرنكړي او دمظلومو هيوادوالو لاسونه به هرومرو دهغوي تر ګريوان او بالاخره ستوني پوري ورسيږي، او څپه كوي به يي.

مولوي صيب نور ملنګ ته مي دجلال آباد دحالاتو په اړه وپوښتل هغه راته وويل چي دطالبانو درانګ او دجهادي شورى دغړو دتيښتي سره سم دغه بدلون مينځ ته راغلي، لواطت او زنا له مينځه ولاړه، ظلم او غلا پاي ته ورسيده، اسلامي قوانين نافذ او امن په ټولي سوګه ټينګ شو. ساورنه وويل چي رونډ له خداي نه څه غواړي خو دوكسترګي غواړي، افغانان همدي ته اړوو او دهمدي لپاره ني قرباني وركړي وه، نو ددي خلكو حساب او كتاب دومره دروند نه وي دروند حساب خو په تاسو كيږي چي له يوي خوا مو جهاد داسلامي حكومت په لور منتج نكړاي شو او ټلي خوامو په سيمه كي سوله او امن ټينګ نكړاي شو، او په دريم پړاو كي مو افغانستان دفجائعو او جنايانو لړه وګرځوله.

آخر ستاسو په فكر به دغه ملت تر كومه پوري داوښكو او وينو په ويباب كي لاهو وهي!

اخر دغه دبي وزلانو ټانويي به تركومه پوري ستاسو دسازشونو او رقابتونو وګروي!

خو ستاسو په فكر به دهيڅ كومي پوري مسور، ورارۍ خوريلار مري او مور مري پتيم، او كونډي مسرمن، ساړه اوسيلي او غوړتكي زګيروي مظلوميت او محروميت الله ته نه وي منل شوي!

هو! فعلاً دطالبانو داسلامي تحريك رضعه تبكه ده داسلامي شريعت دقوانينو په تنفيد او په مفتوحه سيمو كي دامن په ټينګولو سره بريالي شوي. كه طالبانو هم ستاسي له منحرفو سياستونو څخه پيروي وكړه او دسيكولر ستانو سره يي لاسونه يو كړل نو برخليك به يي له تاسو نه ډير بد تر وي.

الله دحق دپلوپانو مرستندوي او دستر ځواك او واك څښتن دي.

البته دطالبانو په نسبت دا خبره ډيره مطرح كيږي چي دطالبانو ټانګ او طياره څوك چلوي او مدرنه وسله يي څوك استعمالوي؟ خوزه له دغو خبرتګا داتو څخه دا پوښتنه كوم پرون چي حكمتيار صيب په كابل كي صدر اعظم ؤ او جنګي الوتكو به يي دطالبانو مركزونه ... كول پيلوټان يي څوك وو؟ دغه پيلوټان او ټينګ چلوونكي چي پرون [illegible] او ... او حكمتيار او [illegible] اسلامي او [illegible] استعماليدل نو كه ني [illegible] اسلامي او [illegible] كړل څه [illegible] انسان به اندازه ځرګند او واضح دي. [illegible] چي دطالبانو داسلامي غورځنګ په نسبت په خپلو او پروكي څه شته [illegible] دجهادي شخصيتونو دحكومت [illegible] او منفوره [illegible] دطالبانو [illegible] سره مقايسه كړي او [illegible] دي فيصلاوت [illegible] كابل دي چي دطالبانو [illegible] له پرون كابل سره چي [illegible] حكمتيار په لاس كي [illegible] ملت ته دي پوښتنه وكړي چي پرون كابل چي [illegible] او [illegible] له نن كابل سره [illegible] پرته ده ..

[illegible] بلكه امريكائي او پاكستاني ګوډلاني يوځ دي.

زه وايم داخبره په غلوو مذهبه غلطه ده ځكه چي دامريكائي او اوسني پاكستاني

مقاصات په افغانستان كي داسلامي حكومت له جوړيدو سره مخالفت لري، او دافغانانو سوګالي هم نشي منلي او طالبان داسلامي حكومت په رامينځ ته كيدو او [illegible] په ټينګولو بريالي شوي او دا طالبان دي په دي دليل چي مسا دحزب اسلامي حكمتيار ګوند په تنظيم طلبه دغه ډلي كي لس زره طالبان منظم كړي وو، چي دغه ټول اوس اوس دطالبانو داسلامي غورځنګ غړيتوب لري، دغه راز دحركت انقلاب اسلامي مولوي محمد نبي محمدي دجمعيت طلبه، حركت انقلاب اسلامي دطالبانو [illegible] له شله زرو نه زيات [illegible]

په همدي ترتيب دمولوي خالص ګروپ تنظيم طلبه، علوم شرعي دطالبانو ځانګړي تنظيم ؤ چي اته زره طالبان يي درلودل.

او دغه راز تنظيم طلاب مدارس ديني [illegible] ګروپ دديني طالبانو ځانګړي تنظيم ؤ چي دولس زره طالبانو [illegible] يي مانه معلوم ؤ.

دغه راز مولوي جلال الدين حقاني دمنبع العلوم په نوم مدارس درلودل چي تر پنځلسو زرونه زيات طلبه وته پكي ديني او نظامي زده كړي وركول ګيدي او

[illegible] څنګه دمسلمان رنګ وركړ چي نوم ني دعسري په كولو سره له جهالته دحاجي [illegible] شو اوله پله پلوه ني ځيني سياسي او نظامي ابهوالان هم ځانته پيدا كړل، خو دښمنان په نړون كښي دوستم دپخواپه پرته څكه ستر شو چه مسعود ني تر خپلي قومانداني لاندي كړ. هغه مسعود چي له ځانه پرته ني په افغانستان كښي هيڅوك هم تر نظر نه وړتلل او اوس دوستم په اصطلاح د هيواد څخه ددفاع عالي شوري په نوم دوهم مجاهدينو رئيس شو په داسي حال كښي چه دوستم به ني پروسه پوري وبيل، درسانئي حكومت دافغانستان په ۸۰٪ خاوره واك نه لري نو دي به ولي له هغه دفاع كوي، خو اوس دوستم له هغه زاړه ابوالاسعود سره په داسي حال كښي ملګري شوي چه هغه په خپله ځان پسي ددفاع لپاره غږونه اړولي دلاري پلمي كړي، خو بيا لا هم دوستم داسي خسرګندوي كوي چه «درباني حكومت نه پخوا او نه اوس قانوني پيه او حيثيت لري».

خو له دي هر څه سره دوستم نن له هغه ليري كي «درباني مسعود ولي» سره دكارمل په دستور مل شوي او غواړي چه دافغانستان په ۹۰٪ خاوره خپله بد بخته قواره خپرن نظر او غير اسلامي مفكوره تحميل كړي او دهمدي لپاره ني دمات شوي حكومت قومندانان را پسنګ كړي او جنګ ني پيل كړي، دكارمل شعار دا وچي: معيار وطن پرستي دی ... دكارمل مل لا نن هم په هغه شعار پسي روان دي چه دمسعود يدرزم قټي دآمنو په سلام شوي، دغه وطن فروشان لا اوس هم په ځل بيا غواړي چه په الوتلو كښي دخپلو وړو ابهوالانو سترګي ځانته اړاوړي ځكه ني ددوي په مشوره د په مزار كښي دروسيه دقونصل په مشوره د شوري «دفاع از مادر وطن» په نوم يو ايتلاف جوړ كړ، او په دي ورستيو كښي ني له ازبكستان څخه جنګي الوتكي او نور جنګي مهمات هم تر لاسه كړي تر څو دا ايتلاف دروسانو ددفاعي پوښتي په شكل استعمال كړي، او له هند سره ني هم همغنونه حڅي او راغځي آن تردي چه دهند دنظامي او جاسوسي شبكي اوس دغه ايتلاف ته ديوه قانوني حكومت په سترګه ګوري او هغوي ته مشوري وركوي.

حتي چه په دي وختونو كښي دهند دقونسل ګيري په مزار او ددوستم سياسي

نايندګي په هند كښي دخلافت ... په حال كښي دي، دوي غواړي چه دخپلي بقالپاره دطالبانو داسلامي تحريك مخنيوي وكړي، خو دطالبانو داسلامي تحريك به دوړاندي ډير داسي دشكو او خس په شان شوي چه دمقاومت په سيمه كښي له منګه تللي دي.

خو ددي خلكو سترګي ابتلاؤم ټوټو نو ړندي كړي دي دوي بخپلو سترګو هغه ژغرانده هم ونليدل چي دخپلو هيوادوالو په خلاف ني ۲۵ كاله دجنګ اعلان كړي او دهغوي دا هر څه دخپل قدرت دهوس په هيله تر خاورو لاندي كړل، هغوي هم ددي اسلامي تحريك په وړاندي ټينګ نه شول خپل سنګرونه ني يو په بل پسي له لاسه وركړل هغه خولا[illegible] مسعود به هم په زيات كبراو غرور سره ويل چه: «دا طالبان چه له كندهاره ډاونلي بسيړنه به ني به كندهار ته دننه كړو»، خو د الله (ج) قدرت داسي وكړل چه مسعود ني دپنجشير تر دري پوري وشړلو او په هغي دره كښي ني ور دننه كړ، او په ځان پسي ني غرونه ور ونړول ترڅو دطالبانو له شيكره څخه ځان وژغوري.

او دوستم به خپل ... غرور سره داسي فكر كوي چه دطالبانو له اسلامي ځواك څخه به كابل او هرات دواړه لاس ته راوړي، دوستم چه څه سوده وړاندي ني دطالبانو ځواك او قوت داسي په رښتيني حسمت پيژندل چه خپله به ني ويل لدينه سترګي پټول جنايت دي چه څوك دطالبانو له تحريك او ريښتونلي څخه سترګي پټوي بلكه هيڅ سوله ايز حل به راڅي تر څو چي طالبان په مسئله كښي دخيل نه وي.

خو دا چه دوستم ډير افغانان او مسلمانان دخپل قدرت او ځان دبقا لپاره وژلي دي آن تردي چه ده خپل سرستيال «رسول پهلوان» ني هم وژلي هغه اوس دهغه پلويان دوستم ته په كښين كښي ناست دي او دطالبانو له اسلامي تحريك سره به په ګناره ... فارياب، جوزجان، بلخ او ... كښي دغه ظالم، قاتل او مفسد به خلاف جنګيږي، تر څو له دوستم څخه دخپل ملت انتقام واخلي او دافغانستان ملت به له دغه ملي خائن څخه وژغوري، دغه ملي خائن له ملت او هيوادوالو سره به هر كار او عمل كښي داسي جفا او جنايت كړي چه په زرګونو هيوادوال ني لوټلي او قتل كړي او هم ني دجنګونو ... (لا نور بيا)

ملي خائن څوك دي؟

«مسلم سلطاني»

دا ځرګنده خبره ده هغه څوك چه خپل ځان، ايمان او الله (ج) ته وفا دار نه وي هغه به خپل هيواد او ملت ته څنګه وفا دار پاتي شيء.

چا چه خپل ژوند په بيباكي، بي بندوباري، قتل او قتال، چور او چپاول، فسق او فساد كښي تير كړي وي كفر او اسلام حل او حُرمت ورته مطرح نه وي؛

دهيواد او هيوادوالو دخدمت كولو به له هغه څخه څه هيله او توقع وكړايشي!

چا چه د «كارمل» پيروي كړي وي او دهغه په لارښودنو او مشورو روان وي نو دده او كارمل په فكر او عقيده كښي به څه تو پيروي !.

دا چه كارمل څه وكړل! هيواد او هيوادوالو ته ني څه راوړل په دي اړه دليكلو ضرورت ځكه نشته چه له عيان څخه بيان ته ضرورت نشته.

موږ دلته پواځي په دوستم پو ځغلنده نظر اچوو چه داسرباز له كومه ځايه راپاځيدلي او دچايه مقابله كښي ني سربازي كوله !!

هو! دا هغه عسكروو چه دكمونزم سره په وفا داري كښي له عسكري مكلفيت څخه وروسته دروسانو داهداقو دتحقق لپاره ني خپل ځان دكمونيستانو يو سرباز جوړ كړ او بياني دځو عسكرو دلګي مشري په غاړه وركړه، چه په دي وخت كښي كمونيستانو سيمه ايزي مليشي دمجاهدينو په مقابل كښي جوړي كړي او دي مليشو ته ني دنيمه فوځيانو حيثيت وركړ.

په دي مليشو به ني دعامو هيوادوالو مالونه، عزتونه، اولادونه او ناموسونه چور او چپاول كړل او دهيوادوالو پت او عزت به ني تر پښو لاندي كاوه.

په دي بي دينه او بي ايمانه افرادو كښي دوستم له ټولو نه زيات وحشي او درنده صفته پهلوان شو ځكه ني ورته بوځي رتبه «جنرالي» وركړه !!

دي وحشي صفته درنده په خپله بي ايمانه كړنلاره كښي دومره پر مخ تګ وكړ چي خپله به ني كمونستانوته داسي ويل چه: « له ماسره داسي بي دينه او بي مذهبه لښكر دي چه له هيڅ ته هم مخ نه اړوي » رښتيا هم چه دا بي دينه لښكر له داسي كړاي جنايت كارانو څخه تركيب شوي ووه چه په كمونستانو كښي هم دوحشي او جنايت كار په ناوړه نوم بدنام وو.

دغه بد بخته په خپل وحشت، ګمراهي، چور او چپاول، بد اخلاقي او مسلمان وژنه كښي دالهي حكم ددي ارشاد مصداق ګرځيدلي و چي: «يقيناً كومو خلكو چه له ايمان څخه وروسته كفر غوره كړي، بيانې په خپل كفر كښي پرمختګ كړي دي دهغو توبه هيڅكله نه قبليږي، داسي كسان خو ياخه لار وركي دي ».

دا ښكاره خبره ده چي دګلم جم دوستم په مشري كښي دبخواني كمونست رژيم څخه پاتي شوي دالحاد او فساد ستره ځاله دشريعت او اسلامي نظام حكومت نه شي زغملاي ځكه دوستم په ځرګندو الفاظو كښي په دي تيرو ورځوكښي وويل چه: داسي سخت اسلام نه شي منلاي لكه دطالبانو چه په هغه كښي اسلامي حدود پلي كيږي».

داسلام او هيواد دښمنانو هر يوه په خپل وارهڅه كړي چي داسلام له دغه نه پخلا كيدونكي دښمن سره ني رنګا رنګ مرستي او دهغه له نظامي وجود څخه ني په سياسي ډګر كښي ګټه پورته كړي تر څو په افغانستان كښي ديوه اسلامي مستحكم مركزي حكومت مخه ونيسي او دا فكتور په دي لار كښي ستر خنډ هم ګڼل كيږي.

له بده مرغه دقدرت په سر په جګړه كښي ټولو ښكيلو اړخونو دوستم ته په پيلاټونو كښي دخپل سيال په ير له زيات امتيازات وركړي او داليه له كمونست څخه را تول بيا تر مسند، دا او په قدرت مين حكمتيار پوري اوس هم يوځلي بيا تر رباني او مسعود پوري داټري لارډانه ده.

دا چه دوستم ته چا ډده وركړه (دڅه ... بولي او د هيڅا سره خپل هيڅ ډول تحليل او ليد نشته او ټول دنياوال ناپوهان دي.

مګر واقعيت داري چه دغه مسكين ډير بي خبره او ډير ناپوه دي، هغه سره دا سوچ نشته چه دنيا خو ني ورځ د صنعتي او علمي وسايلو او اسبابو په واسطه له هر څه ځان خبروي، هر څوك په واقعيتونو سم پوه دي، هر چاپه افغانستان كي د دغه بدمرغه او ناوړه دوره ښه مطالعه كړي ده او هر څوك د هغي په نتائجو ښه خبر دي.

دغه مسكين ځكه په افغانستان كي اسلامي واكمني نړيوالو ته خطره، بلكه چه هغه په انارشيزم يي ټلي. (لا نور بيا)

[illegible] ليارو ني تذ[illegible] كول؟ [illegible] په [illegible] ني خارجي [illegible] ... دا هر څه ښكاره دي.

دا چه دوستم په ائتلافونو، اختلافونو، جنګ او جګړه كښي [illegible] او جمع [illegible] داسي مفهوم ... دي چي دوستم او [illegible] تاريخ له چاند پيځ دي، [illegible] دوستم [illegible] كم ټلاره او ناوړه ... ځرګند دي. دوستم به كمونست څخه به زمكه په پښو نيوله او له مجاهدينو څخه به ني خالي كوله او په دي جريان كښي به ني دمسلمانانو غزنونه اوماګونه لوټل.

بيا چه كله دځينو ... څخه په سكرپوو شوه او مجاهدينو كابل ته مخه كړه هغه دوستم خپل بادار نجيب ني له ... راوګرځاوه، او دكارمل په مشوره ني د ناوړه ... ائتلاف ... دي ليارو حوكي چي دنورو مجاهدينو په مقابله كښي وجنګيږي او په دي ترتيب به افغانستان كښي داسلامي حكومت مخه ونيسي.

كله چه دوستم له مسعود سره د جنګ ... چي د ... ځي او ... دخپل ځان دبقالپاره له حكمتيار سره په دي ... ځاي شو چه مسعود ... طلب خالف دي او دوستم او په هغه ... حزب وحدت له حكمتيار سره په ... غږي شوري په نوم ابتلاف جوړكړ.

دي ملګت هم دمسعود په ... كښي داسي حكم ... چه ... دكابل په ... او ددوستم ... هم ورته ... ائتلاف ... خلكو ته له ... لوقدي او ... وژني پرته نور هيڅ هم وركړل.

لپر روسته دا [illegible] انحصاري ... دغه ... دطالبانو داسلامي ... مقابل كښي جوړ ... دتضاد ... ديوه ... چه له دي ... او ... په دي ابتلافونو كښي [illegible]

ستاسو ليكونه زموږ ځوابونه

بيطرفه قضاوت

د شريعت د جريدي دوتو چلوونكو
السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!
طالبانو چي كله د وحدت د نظام په خلاف ... [illegible]
... ددغه ... طالبانو چي لري [illegible]

طلاقي پخپل كنترول كي راوستي دي هلته واقعاً شريعت نافذ شويدي بول چال چلند د شرعي احكامو په تطبيق كښيږي د هغو علاقو اوسيدونكي خپل روزمره ژوند په ډيره اطمينان سره له كوم زجراو تكلف څخه په ارامه فضا كي د ښځي په ګارو بار كي تير دي، طالبانو پخپلو مربوطو علاقو كي ... شوي، بي امنيتي چورچپاول كلي په كلي نكوستونه باچكونه، ... تلاوت او تماشي ټولي ختمي كړيدي.

طالبانو چي كله د قدرت چوكۍ يعني كابل پخپله قبضه كي راوست ددوي په ... او خواخو كي كوم ... او ... ومنل شو په عادي حالاتو كي بي خپله ... جاري وساتله طالبان پخپل عهد كي ... قدم باني شول ځكه چي د قدرت

چوكي به ورسپارل ... هيڅ اهميت بي ... د ... په ازادي بي د شريعت په ... پابندي ... دغه ... ني هم ... ته ورسوته چي موږ د شر او فساد ... د شرعي اصولو به بيا ټينګو ځكه چي ... ته بي ... او شرط ازادي وركول او الفساد ... طالبان چي څومره د اسلام دوښمنانو د فشار لاندي واقع شوي هم دي سره لدي بي په خپل قلمرو كي د شريعت په ... روڼدو او دستورونو ګلك بندر لګولي دي.

... افغانان د طالبانو ... طرحي او ... چي ... به ... ارامشينه دي ... كوي افغانان دي ... ته رسېدلي دي چي طالبان هيڅ قدرت د شرعي حد او ... څخه سرغړونه كولي نشي

«عبدالرازق صاحبزاده»

حافظ دین و ایمان

محمد یونس "امیني"

برخیـــر کـــه امیـــد زندگی برمومنان رسیـــد
حـافظ دین وشریعت مـاچون طالبـان رسیـــد
بکشـاي چشمــان خـویش وتوبنگرازیقین
کـه سر کـوپ گـري تمامي ان قـاتلان رسیـد
توکـه درهر اس بودي ازبابت مـال خـویش
فکري مکن لشکر دین برخـتم دزدان رسیـد
به هرات و قندهار وغـزني تابه شـهـر کـابل
تا مشـرقي لغمـان کنر امن وامـان رسیـد
صـداي غـرش تانگ هایت کـه دشمن میشنوه
گویند کـه فرار کنیم کـه لشکر دین یزدان رسید
به شمـا مـردم رنجیـده پریشـان حـال وطن
این لشکر صلح است برهمـه"شمـاپان رسیـد
"امیني" از شـادي در پیـراهن نمی کـنـجـد
کـه حـافظ دین ومـال نامـوس مـاپان رسیـد

شنې لوخړې

(نهضت ستانیزي)

اوښکی مي له سـتـرګـو نه چي تلی شـوي
کـبـهم شـوي رود نیل باندي بدلی شـوي
ووب بي کـړي د عـصـر فـرعـوني طاقت
ورکي د نجـات ترینه ګـوډري شـوي
آه مي له تبهـر څـخـه لمبی شـبندی
پورته د اسـمـان پلوته لوړي شـوي
وبي سـره مـالی د الحـادي قـوت
جګي بي مـسـکو کي شنی لوخـړی شـوي
بیـا د (سـتـانیـزي) د قلم څـوکی نه
تویس شي ایداره ملغلري شـوي

تسوتیه

«ګرګري»

زور مي د تکبیـر و کـهکشـان مي په لړ زه کـړ
مات مي چي روسـان کړل ټول جهان مي په لړزه کړ
مانه چي په تیښتـه دروسانو سره فوځونه شول
ګـوري دوارســا واړه پیـمـان مي په لړزه کــړ

هندوکشه

عبد اللطیف نثار

ښـه سنګر تل و غـشاي تانه وایم هندوکـشـه
قـهرمـان ته لا پخـواوي تابه سـتـا یم هندوکـشـه
طالبـان دي شـاو خـوا کي د بورا په څـیـر تاوېږي
ته زمـوږ د سـر پنا يي تانه وایم هندوکـشـه
شورویان دي "تراجـمیـر" ته ئن له شرمـه کـتی تښي
چه له دوي نه په امـان يي تانه وایم هندوکـشـه
لوړی څـوکی نه دي څار شم برټنیف دي کـړ زړه چاودی
هم پلـتـن ئن په ژړا دي تانه وایم هندوکـشـه
بخارا شـوه ترینه چـړه بیـا به خـیـال دېل ملك ته کـړي
سـتـا تیـول ددوي ارمـان شـو تانه وایم هندوکـشـه
تور او سـپین غـرونه څـلانده دشـهیـد په وینو ښکاري
شـا او خـوا دي کـربلا ده تانه وایم هندوکـشـه

ای مومن نزاع چرا؟

صفي الله منصف

یا مـهـدي زمـان وشـهـنشـاه نام و ننګ
اسـلام ګـشـتـه زارو پریشـان مکن درنګ
مـومن بود برادر مـومن نزاع چرا ؟
اورا سـلاح د هند فـریبند به رنګ رنګ
ان بي خـرد فـروخت وطن را به حـبـه،
لاف دګـر زند کـه منم عـاقـل وزرنګ
لیکن چه سـودفـتـنه برانګیـخت و مـیـزنند
برشـیشـه مـراد وطن صـبح وشـام سنګ
اي شـهـسـوار دین به ظهـورت امـیـدمـا
بخـرام کـفـرتوپ سـازندو هم تفنګ
خـوردند نه شـهـر هاودیار غـریب را
مـانند اژد هافـرو برده چون نهنګ
تیـغت کـشـا سـر بیـرا. ظالمان دهر
برچشم کـفـر تیـرزن ازناوك و خـدنګ
شـاهاپرس نوزو د به فـریاد منصـفت
سـازد زلطف با کـرمت شـعـر شـوخ وشنګ

اسلامي تحریك

محمد امین نوزي

تیـاره زړونه به روښـانه په ایمان شي
چي ملګري دتحـریك دلوي کـاروان شي
دافـغـان تانوبي روح دین داسـلام دي
چي روح لارشي کـالبـود ختم په جـهـان شي
کـه وطن خـاوري ایري شـو پري افـسوس دي
خـو ژوندي چي وي اسـلام بیـا به ودان شي
نموزیه ! خـداي دي هغـه بریالي کـړي
په رښتـیـا چي داسـلام څوك طالبـان شي
پیښور داسد ۱۳۷۵/۲۸ کال

د ادب ملغلرې

اوښکه په بتو

محمد حسن «حقیار»

چیـغـه دجـرس یم، نقش په اوبو یم
یا دځواږه خیال مقشول، اوس هم په سلګو یم
زه دکـشـمکش اسیـر، اورمـه را اورمـه
کله دبیـالو یم، کله دتـبـو یم
یا مي راز افشـا همه عـالم اسبـاب کـړلو
یا خـو مـرغلره یم، پټـهـه په پردو یم
یم ستا دهستي تفسیر، ښکارم دآیتي په مخ
رمـز دي دتخلیق یم، تیښـه دلیـدو یم
منم چي ازل، ابد وصف دي دحسن ستا
ناز ته دښکلا په نیـاز، زه هم له هغـو یم
ستا په مخ نقاب غوټۍ زما دعریاني لامل
ته چي په پردو کـښـې بي وژې دمـودو یم
یا یم سمندر خـاموش، یا دسـترګـو رپ یم
یا دمـحـفل شـمع یا اوښکه په بتو یم
یا خـو ادم زاد یمه لوځ یم په جنت کي هم
یا پټ په حـجـاب دنور مـیـنځ کي دلـو یم
یا داسـویلو څـخـبـر ورېځ او سایه بان شولو
یا ښکلانه وسـوځـه دود دسـپیلنو یم
دا مـتـرنمّ اواز بیـا دنیم بسـمل په خـوله
بن دمـحـبـت ګی تل داسي په تارو یم
حد مي دلطیف احساس، کړه «حقیار» ودرك له دي
پرخـه یم دګل په سـر زیږنده دشـپـو یم

په څو ګله په څوواره

ملا اسدالله «حسیني»

مـوږ شـرلي غلیمـان دي په څـو ګله په څـو واره
داسي نه چي یو روسـان دي په څـوګله په څـو واره
مـوږه مـات کـړل تور پوځونه د تور مـخـو انګریزانو
ان لندن کي په لړزان دي په خـوګله په څـو واره
نن پرون مو روس ته داسي عبرت ناك درسونه ورکړل
چي په کـوکـو په ګـیـریان دي په څوګله په څو واره
ورمـېږونه مـومـات کـړي د ګـمـون دسـرو لښکرو
شرمـیـنده په ټول جهـان دي په څـوګله په څـو واره
مات او ګوډ مو بیرته شانه په امو باندي ورتېر کړل
اوس سـرلوړي هرافـغـان دي په څـوګله په څـو واره
بیـا به نه کـړي یرغلونه دافـغـان په خـونه باندي
خپلو کړو باندي پښیمـان دي په څوګله په څوواره
د ګمون دوحشت زامه د افغان په سوك شوه مانه
په ټوپوټوپو ګـویان دي په څـو ګله په څـوواره
د غـربت کچکول په غـاړه دروېزي کـړي په نړۍ کي
خپلی خپښی ته حیران دي په څـو ګله په څـوواره
خپل مسلك ورته مردود شو د افغان د توري ګرپ نه
له مـسـیر نه روي ګردان دي په څـو ګله په څـو واره
حنیفي ستـا په قلم کي څـومره مـتره پیـدا شوي
ښـه شـعـرونه دي ډوان دي په څـو ګله په څـو واره

هیواده !

خوشحال نسل سره وال دکابل دطب انستیتوت محصل

هیــواده تا ته طالبــانو پاك قــران راوړی
دوی د سـوکاله ژوندون زیری پر افغـان راوړی
وطنه! ویاړه چي تاهـسي فـــرزندان روزلي — تا دتاریخ له ویاړه ډك قـــهرمـــانان روزلي
د دوی بهیر، ددوي کاروان به مخ په وړاندی دروي — تا چی اسـلام په تنګ مـئین دا سـرباز ان روزلي
نن بي خپښتن ته نذرانه کي سراو ځان راوړی
دوی د سـوکاله ژوندون زیری پر افغـان راوړی
دوي دهیواد دښتو میرونه ګلسـتان جوړوي — ویجاړ وطنه تا به اوس دا خپل بچیـان جوړوي
د سر په بیـه ډیر پیـاوړي خدمتـونه کـوي — دوي د اسلام په نوم خپلواك افغانسـتان جوړوي
پل لڅه نه غـواړي دوی قـانون د پاك سبحـان راوړی
دوی د سـوکاله ژوندون زیری پر افغـان راوړی
دوي دولس د پرګنو څخـه قیـام جوړ کـړی — دوي دقران ترسیوری لاندی خپل نظام جوړ کړی
وطن پلورونکی غلامان څنګه تری متهي وهي — دوي د غلیم پر کاله ګوري تور ماښام جوړ کړی
د توري برېښ يي نن بري په هر میـدان راوړی
دوی د سـوکاله ژوندون زیری پر افغـان راوړی
